

# افغانستان: اقتصادي ازادي یعنې د رفاه بنسټ

همایون همتا[1]

د لیکوال ایمیل: h.humta@gmail.com

**لنډيز (Abstract):**

د مقالې په محتوا کې د افغانستان اقتصادي ازادۍ انډیکس ته په کتو، په نړیوال ترلاسه شوي مقام او د نمرو په درجه بندۍ خبرې شوي او بیلا بیلې ستونزې په کې روښانه شوي دي، حتی تر دې پورې چې په افغانستان کې دومره اقتصادي ازادۍ محدودې دي چې د ځینو معتبرو اقتصادي ازادیو خپرونکو ادارو په کلنۍ راپورونو کې د افغانستان په اړه هیڅ یادونه نه ده کړې. که چېرې اقتصادي ازادي د هر انسان بنسټیز حق وي چې خپل کار او مال کنټرول کړي، نو په اقتصادي توګه په آزاده ټولنه کې، افراد د کار کولو، تولید، مصرف کولو، او په هره طریقه چې دوي یې خوښوي پانګه اچونه کولی شي، حکومتونه کار، سرمایې او مال ته باید اجازه ورکړې چې په آزاده توګه حرکت وکړي، او د آزادۍ د ساتنې او ساتلو لپاره له اړتیا پرته د جبراومحدودیت څخه ډډه وکړي ځکه چې اقتصادي آزادي سوکالې رامنځ ته کوي او د اقتصادي ازادۍ انډیکس د اقتصادي ازادۍ او د بیلا بیلو مثبتو ټولنیزو او اقتصادي اهدافو ترمنځ مثبته اړیکه ساتي نو له همدې وجهې د اقتصادي ازادۍ مفکورې د سالمو ټولنو، پاک چاپیریال، د سړي سر شتمنې زیاتوالې، بشري پرمختګ، د جامعې د پیاوړتیا او د بې وزلۍ له منځه وړلو سره تړاو لري.

**بنسټیزې کلیمې:** اقتصادي ازادي، اقتصادي ازادۍ انډیکس، مالي ازادي، افغانستان

[1] پوهنیار همایون همتا، اقتصاد پوهنځی، غزنی پوهنتون

**مقدمه:**

د اقتصادي ازادئ په پایله کې سیاسي، ټولنیز او کلتوري ازادئ رامنځ ته کېږي، چې دغه ټولې ازادۍ بیا د یو هیواد پرمختګ سبب کېږي، کوم هیوادونه چې تر نورو ډېره ازادي لري نو حتما په همغه هیوادونو کې رفاه ډېره ده او تر بل هر ځای خلک په کې د ژوند نه ډېر خوند اخلي اود خوشحالي احساس کوي. اقتصادي ازادي دیته ویل کېږي چې افراد د اجناسو او خدماتو په تولید او مصرف کې خپلواک وي او په خپله خوښه چې هر ځای وغواړي پانګونه وکولای شي، یعنې دا چې حکومتونه د تولید د عواملو په داخلي او خارجي انتقال یا تحرک کې بې ځایه او یا اضافي بندیزونه ونه لګوي، څومره چې اقتصاد ترلې وي په همغه کچه اقتصاد ډېر متضرر کېږي او د نړیوالتوب له ګټو څخه محروم پاتې کېږي، چې له دې سره بیا د ژوند کچه هم ټیټیږي. یو شي چې د یادونې وړ بلل کېږي هغه دا چې په اسلامي ټولنو کې باید سیاست اقتصاد رهبري کړي تر څو په ټولنه کې انصاف او عدالت حاکم شي، که چېرې اقتصاد سیاست رهبري کړي نو بیا پیسې په ټولنه کې هر څه په توګه منل کېدای شي، چې ترډېره بیا ټولنه د فسق او فساد لور ته درومي او اخلاقي معیارونه تر پښو لاندې کېږي. د یادې موضوع اهمیت ته په کتو سره غوښتل شوي، چې د اقتصادي ازادئ انډیکس ته په کتو د افغانستان پر ګټلي مقام او د دې انډیکس په نمرو اود کمیدلو په علت او یا هم په ستونزو یې خبرې شوي دي او په پای کې په لنډ ډول حل لارې او د څېړونکو د څېړنو لپاره هم بیلا بیلې سپارښتنې وړاندې شوي دي.

## افغانستان: اقتصادي ازادي یعنې د رفاه بنسټ

د امنیت او آزادئ په برخه کې د دولتونو رول هغه وخت د ژورو بحثونو موضوع شوه، چې له کوم وخت راهیسې توماس هوبس په ۱۶۵۱ کال کې خپل لیویتان (Leviathan) کتاب خپور کړ(Hobbes & Missner, 2016). لیویتان یوه عبراني کلیمه ده چې په تورات کې په مکرر ډول ذکر شوي ده چې دغه کلیمه د قوي او ویرونکي حیوان معنی ورکوي او لیکوال ځکه پر خپل کتاب دا نوم ایښی وو، چې هغه حکومت فوق د جسم بللو یعنی دا چې حکومت قوي او واکمن دی او عام خلک مظلوم او محکوم دي. د ګټورتوب په اخلاقي اصولو باور لرونکي هر یو جیریمي بینتم (Jeremy Bentham)، جیمز میل ( James Mill) او جان سټوارټ میل(John Stuart Mill) خوښي هم د یو ارزښت په توګه امنیت او ازادئ ته ور زیاته کړه او خوښي د یو ارزښت په توګه یاد کړ. مونږ په هیڅ ډول د امنیت، آزادي او خوښې د ارزښتونو د لومړیتوب په هکله علمي پریکړې نشو کولای مګر مونږ کولی شو هڅه وکړو چې د اصلي موضوعاتو په توګه د دوي د متقابلو اړیکو ترمنځ ښه پوهه ترلاسه کړو.د خوښې مفهوم، هغه درجه ده چې یو څوک د خپل اوسني ژوند ټول کیفیت مثبت وارزوي یا په بل عبارت د پوښتنې او ځوابونو په ترڅ کې د داسې پوهې ترلاسه کول چې د یو چا څرنګه ژوند ډېر خوښیږي ځکه چې خوښي هغه څه ده چې یو فرد یې په ذهن کې لري.

وین هوین (Veenhoven) په 2008 م کال کې ازادي د (انتخاب حق) په توګه تعریفوي، چې بیا دا حق د انتخاب فرصت او وړتیا ته اړتیا لري، وړتیا یو انفرادي ځانګړتیا ده، مګر فرصت په چاپیریال پورې اړه لري(Veenhoven,2008). وین هوین ازادئ په دریو برخو ویشي، چې په دې طبقه بندۍ کې اقتصادي، نړیواله او انفرادي ازادئ شتون لري، چې د اقتصادي آزادئ په برخه کې د میراث بنسټ (Heritage Foundation) او د نړیوالې او انفرادي ازادئ په برخه کې د ازادئ کور( Freedom House) په نوم نړیوالې ادارې کار کوي، چې د هیوادونو د کلنې اقتصادي ازادئ انډیکس ته په کتو درجه بندي، مقالې، راپورنه، تحلیلونه او اړوند مسایل خپروي.

عملي تجربې دا روښانه کوي، چې د ازادئ بیلا بیل ډولونه یوله بل سره ژورې اړیکې لري، چې یادې اړیکې د لا زیاتو خوښیو سبب کېږي. په څرګند ډول باید ولیکل شي چې د ازادئ ډولونه د ځانګړو ډلو لپاره ډېر مهمې وي د بیلګې په توګه، د شتمنو او ځواکمنو خلکو لپاره ترډېره بریده منفي آزادي مهمه وي (مهرباني وکړئ مداخله مه کوئ!) او د بې وزلو وګړو لپاره مثبته آزادي ډېره مهمه وي لکه وایي چې (مهرباني وکړی ډېر عامه توکي او خدمات عرضه کړئ!). زیاتې اقتصادي آزادي د کار ګمارونکو، ځان ګمارونکو، کارګرانو او پانګه اچوونکو لپاره مهمه وي لکه وایي چې (یوازې د قانون حاکمیت، په مهربانۍ سره نورهیڅ مقررات!) د کلتوري، مذهبي او جنسي لږکیو لپاره به ډېره شخصي ازادي او یا هم شخصي خودمختاري مهمه وي لکه وایي (مهرباني وکړئ ډېر مساوات او زغم!).

اقتصادي آزادي پدې معنی ده چې افرادو ته اجازه ورکول کېږي چې د ځان لپاره انتخاب وکړي او په داوطلبانه ډول په معاملو کې ښکېل شي، تر هغه چې دوي د بل شخص یا ملکیت ته زیان ونه رسوي. د دولت اساسي دنده دا ده چې د افرادو او د هغوي د شتمنیو څخه ساتنه وکړي. اقتصادي ازادي د هرانسان د بنسټیز حق په توګه تعریف شوې، چې خپل کار او ملکیت کنټرول کړي. افراد آزاد دي چې کار، تولید، توزیع او مصرف وکړي او په هر ډول چې دوي یې خوښوي پانګونه وکړي، حکومتونه باید اجازه ورکړی، چې کار، سرمایه، او توکي په آزاده توګه حرکت وکړي، او د آزادۍ له جبر څخه ډډه وکړي تر هغه حده چې د خپلواکۍ د ساتنې او ساتلو لپاره اړینه وي.

د میراث فاونډیشن(Heritage Foundation) اقتصادي ازادی (د ملکیت حقونه، د فساد څخه خلاصون، مالي ازادي، د دولت لګښتونه، د سوداګرۍ ازادی، د کار ازادي، د پیسو ازادي او د پانګونې ازادي) شاخصونو او د فریزر انسټیټیوټ ( Fraser Institute) اقتصادي ازادی (د حکومت اندازه، قانوني سیستم او د ملکیت ساتنه، سالمو پیسو ته لاسرسی، نړیوال تجارت او کریډیټ، کار او د سوداګرۍ مقررات) شاخصونو په وسیله سنجش(محاسبه) کوي.

هر کال د فریزر انسټیټیوټ (Fraser Institute) په هیوادونو کې د اقتصادي ازادی په اړه یو راپور خپروي، چې د 2019 م کال راپور یې وروستی خپور شوي راپور دی، چې په یاد راپور کې بدبختانه د افغانستان په هکله هیڅ نه دی خپاره شوي خو (10) نمرو څخه په ترتیب (8.91)، (8.81) او (8.56) هانګ ګانګ په لومړی، سینګاپور په دویم او نیوزلینډ په دریم مقام ګټونکي هیوادونه دی. د یادونې وړده، چې ترټولو ورسته پاتې هیواد په اقتصادي ازادی کې وینزویلا ده، چې د (10) نمروڅخه (2.83) نمرې اخیستی او (165) مقام یې خپل کړی دی. لاندی جدول د لا ښه وضاحت لپاره کتلی شي.

**د (Fraser Institute) له لوری د اقتصادي ازادی انډیکس کي درجه بندی شوي هیوادونه**

| مقام (درجه) | د هیواد نوم | کال | ټولټال نمرې | د حکومت اندازه | قانوني سیستمونه او د ملکیت حقونه | سالمي یا قانوني پیسې | د نړیوالي سوداګرۍ ازادی | قانون او مقررات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | په چین کی د هانګ کانګ ځانګړی اداري سیمه | 2019 | (8.91) | (8.42) | (7.53) | (9.74) | (9.56) | (9.29) |
| 2 | سینګاپور | 2019 | (8.81) | (7.56) | (8.28) | (9.76) | (9.44) | (9.01) |
| 3 | نیوزیلنډ | 2019 | (8.56) | (6.60) | (8.68) | (9.78) | (8.76) | (8.98) |
| 165 | وینزویلا | 2019 | (2.83) | (4.34) | (2.49) | (0.69) | (4.09) | (2.52) |

جدول [1] سرچینه:(Institute, 2019) .

د میراث فاونډیشن له لوری په (2021) کال کې د اقتصادي ازادی شاخص راپور ته په کتو سینګاپور ټولټال (89.7)، نیوزیلنډ ټولټال (83.9) او استرالیا ټولټال د (82.4) نمرو په اخیستلو سره په ترتیب سره لومړی، دویم او دریم مقامونه خپل کړی دی او تر ټولو ورسته پاتې هیواد شمالی کوریا ده، چې ټولټال (5.2) نمرې یې ترلاسه کړي دي. هیره د نه وي چې عراق، لیبیا، سومالیا، سوریه او یمن هیوادونه تراوسه پوری په دې درجه بندی کې ځای نه دی موندلی. چې د لا ښه وضاحت په موخه لاندی جدول کتلی شی.

**د (Heritage Foundation) له لوری د اقتصادي ازادی انډیکس کي درجه بندی شوي هیوادونه**


| درجه یا مقام | هیواد | کال | د قانون د حاکمیت انډیکسونه او نمرې | د حکومت د اندازی اړوند انډیکسونه او نمرې | د موثر نظارت یا تفتیش انډیکسونه او نمرې | د ازاد بازار انډیکسونه او نمرې |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | سینګاپور | 2021 | د ملکیت حقونه: (97.5)<br>قضایی اغیزمنتوب: (90.8)<br>د دولت تعهد: (93.2) | مالیاتی بار: (90.5)<br>حکومتی مصارف: (94.1)<br>مالی سلامتیا: (80.0) | د کاروبار ازادي: (93.8)<br>د کاریګرانو ازادي: (91.5)<br>پولي ازادي: (85.4) | د تجارت ازادي: (95.0)<br>د پانګونی ازادي: (85.0)<br>مالی ازادي: (80.0) |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 2 | نیوزیلنډ | 2021 | د ملکیت حقونه: (91.3)<br>قضایی اغیزمنتوب: (80.5)<br>د دولت تعهد: (95.3) | مالیاتی بار: (70.6)<br>حکومتی مصارف: (58.1)<br>مالی سلامتیا: (98.2) | د کاروبار ازادي: (89.9)<br>د کاریګرانو ازادي: (86.3)<br>پولي ازادي (86.9) | د تجارت ازادي: (90.2)<br>د پانګونی ازادي: (80.0)<br>مالی ازادي: (80.0) |
| 3 | استرالیا | 2021 | د ملکیت حقونه: (81.5)<br>قضایی اغیزمنتوب: (90.0)<br>د دولت تعهد: (89.8) | مالیاتی بار: (62.6)<br>حکومتی مصارف: (58.1)<br>مالی سلامتیا: (88.7) | د کاروبار ازادي: (87.4)<br>د کاریګرانو ازادي: (84.1)<br>پولي ازادي: (86.7) | د تجارت ازادي: (89.8)<br>د پانګونی ازادي: (80.0)<br>مالی ازادي: (90.0) |
| 146 | افغانستان | 2021 | د ملکیت حقونه: (30.3)<br>قضایی اغیزمنتوب: (25.7)<br>د دولت تعهد: (29.1) | مالیاتی بار: (91.1)<br>حکومتی مصارف: (76.1)<br>مالی سلامتیا: (99.9) | د کاروبار ازادي: (53.9)<br>د کاریګرانو ازادي: (59.9)<br>پولي ازادي: (80.8) | د تجارت ازادي: (68.6)<br>د پانګونی ازادي: (10.0)<br>مالی ازادي: (10.0) |
| 178 | شمالی کوریا | 2021 | د ملکیت حقونه: (27.7)<br>قضایی اغیزمنتوب: (5.0)<br>د دولت تعهد: (20.2) | مالیاتی بار: (-0.0)<br>حکومتی مصارف: (-0.0)<br>مالی سلامتیا: (-0.0) | د کاروبار ازادي: (5.0)<br>د کاریګرانو ازادي: (5.0)<br>پولي ازادي: (-0.0) | د تجارت ازادي: (-0.0)<br>د پانګونی ازادي: (-0.0)<br>مالی ازادي: (-0.0) |

جدول [2] سرچینه:(Foundation, 2021) .


په (2021) م کال کې د افغانستان د اقتصادي ازادۍ انډیکس نمرې (53) دی، چې په دې نمرو سره یې د نړۍ (146) مقام خپل کړی دی. په ټولیزه توګه د قانون د نه حاکمیت د ستونزو له امله (1.7) نمری کمی شوې دی. افغانستان د اسیا ارام سمندر سیمې د (40) هېوادونو په منځ کې (33) ځای لري او په ټوله کې یې نمرې د سیمې او نړۍ د نمرو له اوسط څخه هم ټیټی دی. په (2020) م کال کې کمه ازادي زیاته چې وروسته بیا کمه شوه نو له همدی وجهی اقتصاد په محدودیتونو(غیر ازادی) کې را حصار شو. خطرناک امنیتي چاپیریال او بې ثباته سیاسي وضعیت له امله اقتصادي وده له خنډونو سره مخ شوه. نا امني نه یوازې د سوداګرۍ آزادي کمزورې کړه بلکې د پانګونې ازادي هم کمزورې کړې وه، دا چې اقتصادي ازادی مو لا ځواکمنه شي او نمرې مو ډیری شي نو افغانستان ثبات، امنیت او د قانون حاکمیت قوي بنسټونو ته اړتیا لري.

**ګراف: [1]**




د افغانستان د اصلي ملکيت اکثره خاوندان يوازې دوديز رول لري. په دغه هکله سروې نادره دي. په ټوليز ډول، د ملکيت د حقونو د خونديتوب ضعف د مالکيت د هر اړخيز حق د نشتوالی او د سوداګريزو محکمو پڅ يا ورو کارونو تر سره کول دی. قضايي سيستم د قانوني کوډونو د ترکيب له لارې په خپل سرى ډول په غير رسمي او غيرمنظم ډول کار کوي چې د ناکافي روزل شوي قاضيانو او محلي مشرانو لخوا څارل کيږي، نو د دی ستونزو په پايله کی فساد په ټولنه کي نفوذ کوي او د اقتصادي پرمختګ مخه ډپ کوی، چی له دی سره د فساد د کمولو لپاره اصلاحات هم په ټپه دريږی.

**ګراف: [2]**





په هيواد کی د افرادو پر عوايدو او پر شرکتونو د ماليې لوړ نرخ تر %(20) دی، ټولټال ماليات د داخلي عوايدو (9.3) سلنه تشکېلوي، په وروستيو دريو کلونو کي حکومتی مصارف د ناخالص ملي محصول (28.2) سلنه دي، او د بودجي کسر په اوسط ډول د ناخالص ملي محصول (0.04) سلنه دی، حکومتي قرضې د جي ډي پي (GDP)، (7.3) سلنه دي او دوامداره امنيتي ننګوني د مالي زيانمنتيا لپاره د يوې سرچينې په توګه شتون لري.

**ګراف: [3]**



په افغانستان کی د سوداګرۍ د پیل لګښتونه، د ساختماني جوازونو او د بریښنا ترلاسه کول ګران شوي، دغه راز د سوداګرۍ په آزادۍ، د نورې دنیا په پرتله د کار په ازادي، د ماهرې کاري قوې کمبود او د دندو په رامنځ ته کولو کې کمښت تر سترګو کیږي او د مالي سیستم د لږ پرمختګ په اساس حکومت په پولي سیاست باندې محدود نفوذ لري.

**ګراف: [4]**




سرچینه:(Foundation, 2021) .

افغانستان په عمل کې دوه غوره سوداګریز ترونونه لري، چې د سوداګرۍ وزن لرونکي تعرفي اوسط یې (5.7) سلنه دی او (22) غیر تعرفوي اقدامات په عمل کې ترسره کېدونکي دي. په ځینې سکتورونو کې خارجي پانګونه محدوده ده او امنیتي ستونزې د پانګونې مخه ډپ کړې ده، د حاکمو قوانینو اجراات پرمالي سیستم بې اغیزې دي، مرکزي بانک یوازې د قیمتونو پر ثبات تمرکز لري په داسې حال کې چې په بانکي سیستم کې پر نقدینګی هیڅ ټینګار نه کوي.

**پایله او سپارښتنې:**

د میراث بنسټ یا (Heritage Foundation) اقتصادي ازادي په (12) کمي او کیفي فکتورونو اندازه کوي، چې دا اقتصادي ازادۍ په څلورو پراخو کټګوریو ویشل شوي دي: د قانون حاکمیت (د ملکیت حقونه، د حکومت بشپړتیا او قضایي اغیزمنتیا) د حکومت اندازه (حکومتی لګښتونه، د مالیاتو بار، مالي سالم والی)، موثر نظارت یا تفتیش (د سوداګرۍ ازادي، د کارګرانو آزادي او د پیسو ازادي) او ازاد بازارونه (د سوداګرۍ ازادي، د پانګونې ازادي او مالي ازادي)، چې په دې کټګوریو کې د دولسو اقتصادي آزادیو څخه هر یو ته د (0) څخه تر (100) پورې نمرې ور کول کیږي. د یو هیواد عمومي نمرې د دې دولسو اقتصادي آزادیو د نمرو مجموعه په اوسط ډول سنجول کیږی او هر یوه انډیکس ته مساوي وزن ورکول کیږي.

د یادې ادارې د (2021) کال د راپور په اساس د افغانستان اقتصادي ازادۍ انډیکس د نمرو اوسط یې (53) اعلان کړی دی، چې د نړۍ د هیوادونو په (146) مقام کې راځي دغه راز یوه بله اداره چې د د فریزر انسټیټیوټ (Fraser Institute) نومیږي د دې بنسټ له لوري اقتصادي ازادي (د حکومت اندازه، قانوني سیسټم او د ملکیت ساتنه، سالمو پیسو ته لاسرسی، نړیوال تجارت او کریډیټ، کار او سوداګریز مقررات) شاخصونو په بنسټ سنجول کیږی، چې بدختانه د (2019) م کال په وروستي راپور کې د افغانستنان په اړوند هیڅ یادونه نه د کړی.

څومره چې اقتصادي ازادي زیاته وي په همغه کچه بیکاری، انفلاسیون کم وي او بالمقابل اقتصادي رشد، نړیواله خارجي پانګونه، او سړی سر عاید زیات وي، دا چې په افغانستان کې د اقتصادي ازادۍ په برخه کې کار نه دی شوي نو څیرونکي ته سپارښتنې دادی چې د اقتصادي ازادۍ د سنجش لپاره شته دولس اینډکسونه جلا جلا وڅیړي او موضوع لا ښه روښانه

کړي، چې ورسته بیا د اقتصادي ازادی اړیکي او اغیز پر نورو متحولینو لکه اقتصادي رشد، دیموکراسي، د اقتصادي رشد چاپیریال، د شتمنیو غیر عادلانه ویش، فساد، د ژوند کیفیت، بهرنی نړیواله پانګه اچونه، نړیوال تجارت، تشبثاتي کړنې، مالي پالیسیو او سیاسي لیدلوري ..... وڅیړل شی، تر څو موضوعات ښه روښانه شي او د ګران هیواد ستونزو ته په کې د حل لارې وموندل شي (Islam, 2018; Nelson & Singh, 1998; Rachdi & Saidi, 2015; Veenhoven, 2014).

**ماخذونه (References):**


Foundation, H. (2021). 2021 INDEX OF ECONOMIC FREEDOM. Retrieved from https://www.heritage.org/index/country/afghanistan

Foundation, H. (2021). 2021 INDEX OF ECONOMIC FREEDOM. Retrieved from https://www.heritage.org/index/ranking

Hobbes, T., & Missner, M. (2016). Thomas Hobbes: Leviathan (Longman Library of Primary Sources in Philosophy): Routledge.

Institute, F. (2019). Economic Freedom Ranking 2019 Retrieved from https://www.fraserinstitute.org/economic freedom/map?geozone=world&page=map&year=2019

Islam, M. R. (2018). Wealth inequality, democracy and economic freedom. Journal of Comparative Economics, 46(4), 920-935.

Nelson, M. A., & Singh, R. D. (1998). Democracy, economic freedom, fiscal policy, and growth in LDCs: a fresh look. Economic Development and Cultural Change, 46(4), 677-696.

Rachdi, H., & Saidi, H. (2015). Democracy and economic growth: Evidence in MENA countries. Procedia-Social and Behavioral Sciences, 191, 616-621.

Veenhoven, R. (2008). Healthy happiness: Effects of happiness on physical health and the consequences for preventive health care. Journal of happiness studies, 9(3), 449-469.

Veenhoven, R. (2014). Freedom and quality of life.